عبدالوحید وحید

۲۰۲۶/۰۸/۱۷

# پاکستان: له افغانستان سره د تقابل سیاست او پایلې

په اوسني بدلېدونکي سیمه‌ییز چاپېریال کې هغه تګلاره چې پخوا یې اسلاماباد ته ورتیا ورکوله چې په افغانستان کې په رامنځته کېدونکو پرمختګونو باندې اغېز ولري، نور هغه پایلې نشي رامنځته کولای چې د ترلاسه کولو لپاره یې دغه تګلاره جوړه شوې وه. رامنځته شوي بدلونونه د افغانستان د کورنیو تحولاتو، د پاکستان خپلو ګڼ اړخیزو ستونځو، د ورځ تربلې زیاتېدونکي رقابتي سیمه‌ییز نظم د رامنځته کېدو او د نفوذ د وسیلې په توګه د نیابتي تګلارو د اغېز د کمېدو له امله په تدریجي ډول رامنځته شوی دی.

اسلاماباد له څو لسیزو راپدېخوا له جغرافیایي نږدېوالي، استخباراتي شبکو، له ځینو افغان ډلو سره له اړیکو، په سوداګریزو او ترانزیټي لارو باندې کنټرول، په دغه هېواد کې د میلیونونو افغان کډوالو له شتون او له مهمو نړیوالو هېوادونو سره له همغږۍ څخه د نفوذ د وسیلو په توګه ګټه پورته کړې ده. د پاکستان دغه برلاسی په بشپړه توګه له منځه نه دې تللې، خو په اغېزمنتیا کې یې د پام وړ کموالی راغلی دی. افغانستان د بهرني سیاسي فشار پر وړاندې له پخوا څخه زیات مقاومت پیدا کړی، بدیلې سیمه‌ییزې اړیکې او اقتصادي لارې یې په تدریجي ډول پراخې کړې دي.

پاکستان په پرله‌پسې ډول د تحریک طالبان پاکستان موضوع د خپلې مهمې امنیتي اندېښنې په توګه مطرح کړې او له افغانستان څخه  داسې غوښتنې کوي چې په خپل وخت کې پاکستان هم د افغانستان لخوا د ورته غوښتنو په وړاندې مثبت غبرګون نه دی ښودلی. پوښتنه دا ده چې ایا له کابل څخه مطرح شوې غوښتنې د خپلواک افغانستان ستراتیژیکو اړتیاو او عسکري ورتیاو ته په کتو، له عیني واقعیتونو سره سمون خوري، او ایا اسلاماباد دافغانستان د هوایي حریم په ماتولو او د دغه هیواد په خاوره باندې د بمبارد کولو په پایله کې مطلوب نتائج ترلاسه کړي دي که نه؟

په TTP باندې د زیات فوځي فشار له رامنځته کولو سره سره په پاکستان کې یاده ډله پیاوړې بریدونه کوي  تاوتریخوالی دوام لري او داسې روښانه شواهد نه لیدل کېږي چې د پاکستان په امنیتي وضعیت کې دې اوږدمهاله او څرګند ښه‌والی راغلی وي. برعکس، دغې تګلارې له زیاتېدونکو ترینګلتیاوو له امله د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو د کمزورې کېدو، د متقابلو تورونو او غبرګونونو د زیاتېدو پایلې درلودلې دي.

تاریخي تجربه په دې برخه کې مهم ورته‌والی وړاندې کوي. د لسیزو په اوږدو کې، پرله‌پسې افغان حکومتونو له پاکستان څخه امنیتي غوښتنې کولې چې هغه ګواښونه له منځه یوسي چې د هغوی په باور د پاکستان له خاورې څخه ورته متوجه دي. دغه غوښتنې، نه په داسې بڼه پوره شوې چې د افغانستان باور یې ترلاسه کړی وي او نه هم د پاکستان غبرګونونو په افغانستان کې مثبته پایله رامنځته کړه. پر ځای یې،  ستونځې د بې‌باورۍ، تقابل او بې‌ثباتۍ تکراري بهیر رامنځته کېدو لامل شوې دي.

پاکستان،  چې له افغانستان څخه د پام وړ لوی او مجهز پوځ، پراخې استخباراتي ورتیاوې او ډېرې پیاوړې دولتي اداري لري، تر اوسه نه دی توانېدلی چې د TTP ګواښ په اوږدمهاله توګه له منځه یوسي. بناً  د کابل نوي واکمنان، چې له پام وړ کمو سرچینو، کمزورو دولتي بنسټونو او په عین وخت کې له سختو اقتصادي، سیاسي او اداري محدودیتونو او بندیزونو سره مخ دي، څنګه کولای شي  چې له تمې سره سم دومره ژوره او پېچلې امنیتي ستونځه په بشپړه توګه حل کړي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د تېرو لسیزو تجربه ښیي چې وسلهوالو ډلو ته یوازې د یوې عادي امنیتي ستونځې په توګه کتل بسنه نه کوي. د هغوی دوام د سیاسي، ټولنیزو، ایډیالوژیکي او سیمهییزو عواملو له ګډ تعامل څخه سرچینه اخلي. TTP هم هېڅکله یوازې د افغانستان پر خاوره پورې محدوده پدیده نه وه؛ د دغې ډلې تاریخ او عملیاتي چاپېریال او ریښې په پاکستان کې دننه تحولاتو سره تړاو لري. بناً دا تمه چې په کابل کې ناست حکومت دې د یوه اړخیز اقدام له لارې دغه ستونځه حل کړي، د پاکستان لخوا په خپلو ستراتیژیکو نیمګړتیاو او ځمکنیو واقعیتونو باندې سترګې پټول او ناشونی کار دی.

له ۲۰۲۱ کال وروسته د پاکستان لخوا له افغانستان سره د تقابل له تګلارې څخه داسې ښکاري چې دغه د افغان حکومت د وړتیا په اړه ناسم اټکل کړی دی، یا یې هم په عمدي ډول د افغانستان سیاستونه له خپلو غوښتنو سره د سمولو لپاره په کابل باندې د فشار زیاتولو ناسنجول شوې تګلاره غوره کړې ده خو پایله یې د لا زیاتې بېباورۍ، د اړیکو ترینګلتیا او تقابل رامنځته کېدل شو.

هوایي بریدونه، د ډیورنډ په کرښه باندې د دروازو تړل، د سوداګرۍ ګډوډول او د زور له لارې د افغان کډوالو را ایستلو په افغانستان باندې د پام وړ اقتصادي او بشري فشارونه رامنځته کړي دي، خو په عین حال کې یې په افغانستان کې د بهرني فشار پر وړاندې د مقاومت کچه لوړه کړې، د بدیلو لارو د لټون اړتیا یې پیاوړې کړې او افغانستان یې هڅولی چې خپلې سوداګریزې او ترانزیټي لارې متنوعې کړي. اوس یقیناً ویلای شو؛ هغه تګلاره چې پاکستان له خوا د نفوذ د زیاتولو لپاره تعقیبوله، په ډېرو مواردو کې یې معکوسې پایلې درلودلې دي او د پاکستان دودیز نفوذ یې هم تقریباً لهمنځه وړی دی.

افغانستان خپلې سوداګریزې او ترانزیټي لارې متنوعې کړې او په پاکستان لارو باندې یې د خپلو اړتیاوو پوره کولو تکیه راکمه کړې ده، د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د سوداګرۍ په برخه کې تکراري ځنډونو او محدودیتونو پاکستاني سوداګرو او د سیمې ولسونو ته هم د پام وړ اقتصادي زیانونه اړولي دي. اوس داسې ښکاري چې پاکستان به اوس یا هم څه وخت وروسته مجبور وي چې د یاد هیواد لخوا د تړل شویو لارو د پرانستلو په موخه له افغانستان سره د دوه اړخیزو ګټو په چوکاټ کې هوکړې ته ورسېږي.

له دې څخه ورهاخوا سیمهییز چاپېریال هم بدل شوی دی. چین، روسیه، ایران، د منځنۍ اسیا جمهوریتونه، د خلیج هېوادونه او هند، هر یو د خپلو ځانګړو ستراتیژیکو موخو او ګټو له مخې، له افغانستان سره خپلې اړیکې او تعاملات پراخ کړي دي. دغه حالت په رقابتي توګه داسې سیمهییز چاپېریال رامنځته کړی چې افغانستان ته یې د خپلو بهرنیو اړیکو د متنوع کولو پراخ فرصتونه برابر کړي دي. له همدې امله، د پاکستان په ګډون هېڅ ګاونډی هېواد اوس نشي کولای چې د افغانستان پر ستراتیژیکو پرېکړو باندې دومره اغېز ولري لکه په تېرو وختونو کې چې یې درلوده.
د پاکستان کورنیو ستونځو هم د دغه هېواد د بهرنۍ ستراتیژۍ د دوام وړتیا ننګوی. سیاسي بېثباتي، اقتصادي ترینګلتیاوې او اوږدمهالې امنیتي ستونځې، په ځانګړې توګه د TTP او بلوڅو له وسلهوالو خوځښتونو سره تړلې تاوتریخوالی، په زیاتېدونکي ډول مالي لګښتونه لوړوي او اقتصادي ستونځه زیاتوي. دغه ستونځې په سیمه کې د پاکستان نفوذ له منځه نه وړي، خو ددغه هېواد ستراتیژیک انعطاف ګواښي او له افغانستان سره اوږدمهاله تقابل ورته ګران تماموي.

شک نشته چې جغرافیه، متقابل اقتصادي تړاو، ټولنیزې اړیکې، کلتوري مشترکات او امنیتي اندېښنې به افغانستان او پاکستان په راتلونکي کې هم د یو بل په ستراتیژیک چاپېریال باندې اغېز ولري. البته اساسي پوښتنه دا ده چې هغه دودیزې لارې په ځانګړي ډول نیابتي جګړه چې اسلاماباد پرې په افغانستان کې د نفوذ د اعمال هڅه کوله، په اوسنیو شرایطو کې اغېزمنې دي؟ تاریخ، سیمه ییز حالات او معاصر سیاستونه له دواړو هېوادونو څخه د تقابل پرځای د سیالو او خپلواکو ګاونډیانو په توګه نیغ په نیغه خبرې اترې، متقابلې ژمنې، د کډوالو د راستنولو منظم مدیریت، پراخه اقتصادي همکاری، سیمهییز اتصال او اوږدمهاله ډیپلوماتیک تعامل غوښتنه کوي. اوږدمهاله ثبات به هغه مهال رامنځته کېږي چې پکې تعامل د تقابل په سیاست باندې ګټور وګڼل شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ